# لنډیز

د خلکو او دولت تر مینځ تړون (CC) د دولت او کلیو تر مینځ د همکارۍ یوه وعده ده. دا تړون د دولت د پراختیایي لید د بنسټ ډبره ګڼل کېږي. دا تړون د دولت د مشروعیت په ټینګښت، له پاشل کېدو څخه په مخنیوي، او همدارنګه د دولت او ټولنې ترمینځ د ګډون فضا د رامینځ ته کولو په لاره کې د دولت ټولیزه هڅه ده. دا تړون یوه ژمنه ده چې د کلیو له لوري د لمړیتوب ورکونې پر بنسټ به د افغانستان ټولو وګړو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي. د لمړي ځل لپاره، د افغانستان د ښاري او کلیوالو ټولنو د پرمختګ پروګرام به تر همدې چتر لاندې سره یو ځای شي. د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام د خلکو او دولت تر مینځ د لوی تړون د ملي لمړیتوبونو د پروګرام یوه برخه ده چې د افغانستان د بیا رغونې د وجهي صندوق او نړیوال بانک له لوري به یې ملاتړ وشي.

## د پروژې موخه

د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام د وړاندیز شوې پروژې پرمختیایي موخه د کلي د پراختیایي شوراګانو او کلسترونو د پیاوړي کولو له لارې د خدمتونو د رسونې د بهیر ښه کول دي.

## د پروژې عناصر

1. په ښاري او کلیوالو سیمو کې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره ځانګړې شوې پیسې ( د شنو ځایونو، د اوبو او حفظ الصحې، د دریمې درجې سړکونو او د نوې کېدو وړ برېښنا په ګډون).
2. تشکیلاتي جوړښت
3. څارنه او د پوهې تر لاسه کول
4. د پروژې پلي کول او مدیریت

## د پلي کولو ترتیبات

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا او وزارت او د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره په اړونده ښاري او کلیوالو سیمو کې د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام د پلي کولو دوه عمده بنسټونه دي.

## بالقوه چاپیریالي او ټولنیزې اغېزې

تمه کېږي چې، د افغانستان د ښاري او کلیوالو سیمو لپاره د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام تر پوښښ لاندې په پام کې نیول شوو فرعي پروژو کړنې/فعالیتونه به د پام وړ چاپېریالي او ټولنېزې اغېزې له ځان سره ونلري. د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام فرعي پروژو ته په B کټګورۍ کې ځای ورکړل شوی دی او د نړیوال بانک کړنلارې، د چاپیریال ساتنې ملي قانون او مقررې په دې اړه خوندیتوب را مینځ ته کوي.
تمه نه کېږي چې دا پروژه به له ځان سره د بېځایه کېدو او بیا مېشت کېدو پېښې له ځان سره ولري، ځکه چې دا پروژه په پام کې لري تر څو د وړې کچې کلیوال او ښاري بنسټیز جوړښتونه تمویل کړي هېڅ داسې کړنې په کښې شتون نلري چې په غېر داوطلبانه توګه د ځمکې استملاک او یا هم د ځمکې استملاک چې د بیا مېشت کېدو او یا هم له ۲۰۰ څخه ډېرو کسانو ته د جبران ورکړه په کې شامله وي.

د وړاندیز شوي پروژې لپاره طرحه یوه ستراتیژي معرفي کوي، چې باوري کوي چې ټولې ټولنیزې ډلې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د ګټه اخیستونکو په توګه په کښې شامل دي، او دا چې د هغوی اندېښنو ته د نړیوال بانك د خوندیتوب د اړونده کړنلارو سره سم پام شوی دی.

**کړنلاره او د چاپیریال قانوني تنظیم**
**د نړیوال بانك عملیاتی کړنلارې د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو په پروګرام کې په پام کې نیول کېږي**

| په پروژه کې د خوندیتوب په موخه پلې کېدونکې کړنلارې | هو | نه |
| --- | --- | --- |
| چاپېریالي ارزونه (OP 4.01) | ☑ | |
| طبیعي ځایونه (OP 4.04) | | ☑ |
| د آفتونو مدیریت (OP 4.09) | | ☑ |
| فزیکي کلتوري سرچینې (OP 4.11) | ☑ | |
| بیا مېشت کېدل (OP 4.12) | ☑ | |
| ځایي خلك (OP 4.10) | | ☑ |
| ځنګلونه (OP 4.36) | | ☑ |
| د بندونو خوندیتوب (OP 4.37) | | ☑ |
| تر شخړه لاندې سیمو کې فرعي پروژې (OP 7.60) | | ☑ |
| د اوبو په نړیوالو لارو کې فرعي پروژې (OP 7.50) | | ☑ |

د چاپېریالي او ټولنیزې برخې هغه لمړني اړوند ملي قوانین او مقررې چې د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام سره په تړاو به په پام کې ونیول شي عبارت دي له:

- د افغانستان د چاپېریال ساتنې قانون (2007)
- د ملي چاپیریالي اغېزو د ارزونې کړنلاره (2007)
- د ځمکې د استملاك قانون (2009)
- د ځمکو د چارو د مدیریت قانون (2008)
- د ځمکې کړنلاره (2007)
- د افغانستان د تاریخي او کلتوري میراثونو د ساتنې قانون (2004)
- د افغانستان اساسي قانون (2004)
- د اوبو قانون (2009)

**د خوندیتوب د اقدامونو سره په مطابقت کې ترلاسه شوو زده کړو ته ځای ورکول**

د یوې لسیزې په اوږدو کې، ملي پیوستون پروګرام د خپلو I ، II، او III پړاوونو په ترڅ کې د ټول افغانستان په کچه د 80،000 بنسټیزو جوړښتونو پروژې په مالي توګه تمویل کړې دي. د خوندیتوب د اهمیت له کبله، ملي پیوستون پروګرام د فرعي پروژو د پلې کولو پرمهال ، د خوندیتوب د وسیلو د چمتو کولو، ورتیا لوړونې، سیمه ایزې څارنې، او د ټولنې د څارنې په ګډون، خاصه پاملرنه کړې ده. د شکایتونو د حل او

راپور ورکونې میکانیزمونه او داسې نور... تل پر ځای وو. د ملي پیوستون پروګرام د فرعي پروژو په تخنیکي تفتیش کې د کلونو په موده کې د خوندیتوب په برخه کې کومه ستونزه نه ده په ګوته شوې. د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام به د ملي پیوستون پروګرام د تجربو په رڼا کې د خوندیتوب ترتیبات سرا مینځ ته کړي.

## د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ (ESMF) موخې او بهیر

د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ (ESMF) له هر ډول شنني پرته تر وخت د مخه د احتمالي بالقوه منفي اغېزو د پېژندلو په لاره کې کوټلي ګامونه اخیستي دي او همدارنګه د یادو اغېزو د کمښت لپاره پراخه لارښوونې هم برابروي.
د دې کاري چوکاټ موخه داده تر څو، په ډاډ سره مرسته وکړي چې د دې پروژې تر پوښښ لاندې فعالیتونه به:

- د خلکو د روغتیا او خوندیتوب ساتنه وکړي؛
- د معیشت د هر ډول له مینځه تلنې مخنیوی او یاهم د هغې جبران؛
- د فرعي پروژې او یا د هغو
- د هرې فرعي پروژې یا د هغې د زیاتیدونکو اغیزو په پایله کې د چاپیریال د تخریب څخه مخنیوی؛
- د چاپیریالي او ټولنیزو مثبتو پایلو پیاوړتیا؛ او
- د نړیوال بانك د خوندیتوب د کړنلارو او د افغانستان د چاپېریال ساتنې قانون او مقررو سره مطابقت باوري کړي.

ټولې وړاندیز شوې فرعي پروژې د ډیزاین/طرحه کولو له پړاو څخه د مخه، به د لنډې ترېدنې/پښنو د مزل او ځای ټاکلو تر بهیر لاندې راشي تر څو د تمې وړ پروژې د پلي کېدو شونتیا باوري کړي. ټاکل شوی ځای به په سمه توګه د دواړو چاپېریالي او ټولنیزو اړخونو څخه تر څېړنې لاندې ونیول/مطالعه شي. موندنې به د عامه مشورې په ترڅ کې له کلیو سره شریکې شي.
ټولې وړاندیز شوې فرعي پروژې به وڅېړل/ سکرین شي تر څو باوري کړي چې بالقوه چاپېریالي او ټولنیز خطرونه کېدلای شي د اړتیا په صورت کې په مناسبه توګه د چاپیریالي او ټولنیز مدیریت د پلان په کارولو سره په نښه شي.
پلي کوونکي بنسټونه به باوري کړي چې، د پروژې په سیمه کې د موجودو ځمکو او شتمنیو له خاوندانو سره سلا شوې ده. د جنسیت له مخې به د کلي په کچه په جلا جلا توګه له هرې اغېزمنې سیمې (ښاري بنسټیز جوړښت) یا کلي ( نورې فرعي پروژې) سره ناستې تر سره شي تر څو ځایي خلکو ته د جبران اړوند د خپلو حقونو او د ضمیمه شوي لارښود سره سم د ځمکې د استملاك او د لرغونو ځایونو د موندنې د چانس په اړه معلومات ورکړي. د خلکو او دولت تر مینځ د تړون پروګرام د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان (CCP ESMP) به د ستونزو د هوارې یو مناسب میکانېزم را مینځ ته کړي.

د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت کاري چوکاټ (ESMF) د افغانستان دولت د استازو (د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت MRRD، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې IDLG، د ښوونې وزارت MoE، د عامې روغتیا وزارت MoPH، د کرنې او مالدارۍ وزارت MAIL ، د چاپېریال ساتنې ملې ادارې NEPA، او د افغانستان د نورم او ستندرد ملي ادارې ANSA ) په ګډون ټولو ښکېلو اړخونو، مدني ټولنو او د کابل او ګاونډیو ولایتونو د کلیو پراختیایي شوراګانو ته د یوې مشورتي غونډې په ترڅ کې د 2016 کال د جون

میاشتې په 29مه نېټه وړاندې شو. د غونډې په جریان کې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د کاري چوکاټ (ESMF) په هکله د ناخوښۍ کومه څه تر سترګو نه شول، خو ټولو ګډون کوونکو ټینګار وکړ چې د خلکو او دولت تر مینځ د تړون د عناصرو پروګرام په اوږدو کې د ټولنیز او چاپېریالي مدیریت د پلان له لارې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د کاري چوکاټ (ESMF) په ژمنو او پلي کېدو باندې د پوهیدو لپاره ټولو ښکېلو اړخونو ته روزنه ورکړل شي.

**د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب د مدیریت د کاري چوکاټ (ESMF) تشکیلاتي ترتیبات**

د دې پروژې د پلي کولو پشپړ مسئولیت په کلیوالي سیمو کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) او په ښاري سیمو کې د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکې ادارې (IDLG) په غاړه دی.

په ملي کچه، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) به د دوه کارکوونکو ( نارینه یا ښځینه) د چاپېریال ساتنې لوړرتبه افسر او لوړ رتبه ټولنیز افسر په لرلو سره، د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب یو واحد ولري . دا واحد به په ټولیزه توګه د چاپېریالي او ټولینز مدیریت د کاري چوکاټ په رڼا کې د چاپیریالي او ټولنیز خوندیتوب د ټولو موضوعګانو مسئولیت پر غاړه ولري او د منساب چاپېریالي او ټولینز مدیریت د کاري پلان په واسطه د چاپېریالي او ټولینز مدیریت د کاري چوکاټ د عملي کېدو څخه د باوري کېدو مسئولیت پر غاړه لري.
د زون په کچه به د چاپیریال او ټولنیز خوندیتوب یو خاص کارکوونکی ( نارینه یا ښځینه ) به په هر یو له شپږو زونونو کې شتون ولري. یاد کارکوونکی په ولایتي اداري واحد کې د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب استازو / لوړرتبه انجنیرانو ته د ملي چاپیریالي او ټولنیز خوندیتوب واحد ته د ورکړل شوې روزنې د لېږد دنده پر غاړه لري. یاد کس به همدارنګه د ولایتي اداري واحد د لوړرتبه انجنیر څخه د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د پلانونو تر لاسه شوې نمونې و آزمایي او د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د پلان د پلي کولو لپاره به د فرعي پروژو د یوې نمونې څارنه وکړي.
په ولایتي کچه، له ولایتي اداري واحد څخه به یو لوړرتبه انجنیر (احتمالاً نارینه) د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب د استازي په توګه ونومول شي او د ټولنیز او چاپېریالي خوندیتوب ټول مسئولیتونه به ور په غاړه شي. لوړرتبه انجنیر به د چاپېریال او ټولنیز مدیریت ټول پلانونه منظور او یوه نمونه به یې د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب واحد ته ولېږي. نوموړي به همدارنګه د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د پلان پر بنسټ د فرعي پروژو پلي کېدنه وڅاري. د چاپېریال او ټولنیز مدیریت د پلان اړوند ټولې پرېکړې به په ولایتي کچه تر سره شي، د هرې هغې پوښتنې په هکله به چې پرېکړې اغېزمنې کوي، د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب ملي واحد ته مراجعه وکړل شي.
د ولسوالۍ په کچه، به د ۲۰ پراختیایي شوراګانو تر پوښښ لاندې راوستلو لپاره یو انجنیر (احتمالاً نارینه) شتون ولري. د ولسوالۍ انجنیر مسئولیت لري چې د پام وړ سیمه کې د څېړنې او له خلکو سره د بحث په موخه قدم (transect walk) ووهي. د ولسوالۍ انجنیر به بیا د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان او د ټولنیزو کارکوونکو له لوري چمتو شوي ټولنیز عناصر سره توحید کړي. نوموړی انجنیر به د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان د پلي کېدو چارې وڅاري او ربع وار راپور به وسپاري.
همدارنګه د ولسوالۍ په کچه، به همکاره مؤسسه د هرو ۲۰ پراختیایي شوراګانو لپاره دوه ټولنیز کارکوونکي ( ۱ نارینه او ۱ ښځینه) ولري،. د دوه ټولنیزو کار کوونکو مهم رول به دا وي چې د کلي له پراختیایي شوراګانو سره کار وکړي تر څو یقیني کړي چې د تر ټولو زیان منونکو ډلو، په ځانګړې توګه د کورنیو د ښځینه سرپرستواو د ځمکې نلرونکو کسانو نظرونه او غږونه د فرعي پروژو په ټاکلو او پلي کولو کې منعکس شوي دي.

په ملي کچه، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره به د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب یو مدیر ولري. نوموړی به د روزنیزو لاربښودونو د جوړولو او د ښاري چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب کارکوونکو د روزنې مسئولیت پرغاړه ولري. یاد مدیر به له ښاري کارکوونکو څخه ټول راپورونه تر لاسه او وڅېړي او له ولایاتو څخه په دې اړه ژتر لاسه شوو ټولو پوښتنو ته په ځواب ووایي (حل کړي).
په 4 ښارونو کې د خلکو او دولت تر مینځ تړون د پلي کولو په برخه کې، به له همکارې مؤسسې څخه یو لوړرتبه انجنیر/ د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب استازي (احتمالاً نارینه) ته د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان د پلي کولو مسئولیت ور په غاړه شي.
په هر ښار کې، به د هرو ۱۰ پراختیایي شورا ګانو لپاره یو انجنیر وګومارل شي چې د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د پلان د چاپېریالي برخې مسئولیت به پر غاړه ولري. نوموړی انجنیر به د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د پلان چاپېریالي اجزاوې جوړې کړي، د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د پلان به د ټولنیزو کارکوونکو له لوري د چمتو شوو ټولنیزو عناصرو سره توحید کړي، د هغې پلې کېدنه به وڅاري او ربع وار راپورونه به وړاندې کړي.
همکاره مؤسسه به همدارنګه د هرو ۱۰ پراختیایي شوراګانو لپاره دوه ټولنیز کارکوونکي ( ۱ نارینه او ۱ ښځینه) ولري.
همدارنګه د ولسوالۍ په کچه، به همکاره مؤسسه د هرو ۲۰ پراختیایي شوراګانو لپاره دوه ټولنیز کارکوونکي ولري، ( ۱ نارینه او ۱ ښځینه). د دوه ټولنیزو کار کوونکو مسئولت به د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د پلان د ټولنیزو اجزاؤ جوړول، د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت پلان د ټولنیزو اړخونو څارنه او همدارنګه لوړرتبه انجنیرانو ته د ربع وارو راپورونو سپارل وي.

د ټولنیزاو چاپیریالي ظرفیت لوړوني د یوې برخې په توګه چې په افغانستان کې به د نړیوال بانك له لوري د تمویلېدونکو عملیاتو د پلي کولو لپاره وړاندې شي، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا په وزارت کې د چاپېریال او ټولنیز خوندیتوب واحد او ورسره د ساحې په کچه مسئول کارکوونکي ( د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره) به د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د کاري چوکاټ په اړه روزنه تر لاسه کړي.
په ټولیزه توګه د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د کاري چوکاټ د پلي کولو مسئولیت په کلیوالو سیمو کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت او په ښاری سیمو کې د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکې ادارې پر غاړه دی. له مطابقت څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت/ د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره یا همکاره مؤسسې ته به دنده وسپارل شي تر څو د رغونې په پړاو کې په منظمه توګه د چاپېریالي او ټولنیز خوندیتوب د پلي کېدو چارې وڅاري. د فرعي پروژو د عملیاتو په ترڅ کې د پام وړ اغېزو اړوند د کموونکو اقدامونو د پلي کېدو د څارنې مسئولیت به د کلیو د پراختیایي شوراګانو/ GC او کلیو پرغاړه وي. د کلي ګډه بیزه څارنه د دریمې ډلې د څارنې له ډلې سره یو ځای باید په پراخه توګه په دې برخه کې وکارول شي.

**څارنه او ارزونه**
په ټولیزه توګه د چاپېریالي او ټولنیز مدیریت د کاري چوکاټ د پلي کولو مسئولیت په کلیوالو سیمو کې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت او په ښاری سیمو کې د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکې ادارې پر غاړه دی. له مطابقت څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت/ د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره یا همکاره مؤسسې ته به دنده وسپارل شي تر څو د رغونې په پړاو کې په منظمه توګه د

چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب د پلي کېدو چارې وڅاري. د فرعي پروژو د عملياتو په ترڅ کې د پام وړ اغېزو اړوند د کموونکو اقدامونو د پلي کېدو د څارنې مسئوليت به د کليو د پراختيايي شوراګانو/ GC او کليو پرغاړه وي. د کلي له ګډه ييزه څارنې څخه بايد په دې برخه کې په پراخه توګه کار واخيستل شي.

د ولايتي پلي کوونکي واحد PIU د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب افسر به همدارنګه د چاپېريالي او ټولنيز مديريت پلان د مطابقت لپاره فرعي پروژې وڅاري او د ولسوالۍ په کچه به د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب د استازې کار هم وڅاري. دې ته ورته، د خلکو او دولت تر مينځ د تړون د اجزاؤ پروګرام په مرکزي دفترونو کې د چاپېريالي او ټولنيز خونديتوب واحد به همدارنګه وخت په وخت د ټوليزې څارنې د اداري په توګه د فرعي پروژو څارنه تر سره کړي.
په ولايتي کچه، د خلکو او دولت تر مينځ د تړون د اجزاؤ پروګرام د خونديتوب افسران د کليو د پراختياي شوراګانو/GC سره يو ځای به د کمونکو اقدامونو د پلې کېدو د څارنې مسئوليت ته دوام ورکړي کوم چې د چاپېريالي او ټولنيز مديريت په پلان کې په ګوته شوي دي.